ICRC

جنوري - جون ۲۰۲۵

# په افغانستان کې عملیاتي حقایق او شمېرې




## د روغتیا پاملرنې ملاتړ

### لومړنۍ روغتیایي پاملرنه

**۶۰۸،۶۰۰**

تنه چې ډېری یې ښځې او ماشومان وو (۶۴٪ ښځې)، د افغاني سرې میاشتې ټولنې د هغو **۴۷** روغتیایي مرکزونو له لارې چې د آی سي آر سي لخوا یې ملاتړ کېږي، له لومړنۍ روغتیایي پاملرنې څخه برخمن شوي.

**۱۶۴،۴۱۸**

دوزه واکسین د افغاني سرې میاشتې ټولنې د ملاتړ لرونکو **۴۶** روغتیایي مرکزونو کې تطبیق شوي.

**۴،۱۸۲**

خوارځواکي ماشومان د آی سي آر سي په ملاتړ د افغاني سرې میاشتې ټولنې د تغذیې له پروګرام څخه ګټه اخیستې.

**۹۲**

د تغذیې د **۹۲** کلینیکي کارکوونکو او د **۲** تغذیې مدیرانو د معاشونو د پوښښ لپاره د افغاني سرې میاشتې ټولنې ته مالي مرسته برابره شوې.

**۱۷۴**

د افغاني سرې میاشتې ټولنې کلینیکي کارکوونکي (**۱۲۶** ښځې او **۴۸** نارینه) د مالي او تخنیکي ملاتړ په ترلاسه کولو سره په بېلابېلو روزنیزو پروګرامونو کې ګډون کړی ترڅو خپلې وړتیاوې لوړې کړي.

**۳۲۹**

د افغاني سرې میاشتې ټولنې کلینیکي او اداري کارکوونکو د روغتیایي پاملرنې د درناوي او ساتنې په اړه د پوهاوي په غونډو کې برخه اخیستې.

**۱۱**

د آی سي آر سي د مالي او تخنیکي ملاتړ له لارې **۱۱** د افغاني سرې میاشتې ټولنې کلینیکي کارکوونکي د روغتیایي کارکوونکو د دندو او مکلفیتونو په اړه وروزل شول.

**۲۸**

د روغتیایي خدمتونو د کیفیت د ښه کولو لپاره د هېواد په اوو سیمو کې د افغاني سرې میاشتې ټولنې د کلینیکي کارکوونکو سره **۲۸** تخنیکي روغتیایي غونډې ترسره شوې (**۲۵۳** ګډونوال: **۱۸۸** نارینه او **۶۵** ښځې).

**۲**

د ناروغانو د تغذیې د ښه کولو لپاره د **۲** د افغاني سرې میاشتې ټولنې بنسټیز روغتیایي مرکزونه د «د کارونې لپاره د تغذیې چمتو خواړه یا RUTF په توکو سمبال شول.

**۲۱**

بنســتیز روغتیایــي مرکزونــه پــه غیرطبــي او دفــتري وســایلو ســمبال شــول.

**۱۹**

بنســتیز روغتیایــي مرکزونــه د راپــور ورکولــو پــه وســایلو ســمبال شــول.

**$**

د هیواد په جنوب کې د راستنېدونکو د ملاتړ لپاره د بیړنی مرستې په توګه د **۱.۹** مېلیونه افغانۍ په ارزښت ضروري درمل او مصرفي توکي د افغاني سرې میاشتې ټولنې ته ورکړل شول.

## د روغتونونو پاملرنه

**۴**

روغتونونه (د خوست ولایتي روغتون، د پکتیا سیمه‌ییز روغتون، د زندانونو د اداري او د ترینکوټ ولایتي روغتون) د بیړنی لومړنی پاملرنې په بنسټیزو برخو کې وروزل شول او د ناروغانو د پاملرنې د ښه کولو او د بیړنیو حالاتو د ځواب ویلو وړتیا د پیاوړتیا لپاره په ضروري طبي وسایلو او کلینیکي توکو سمبال شول. د کاري چاپېریال د ښه والي لپاره غیرطبي وسایل هم برابر شول.

**۳۳۲،۸۲۵**

ناروغانو ته په یادو شویو روغتونونو کې مشورې ورکړل شوې.

**۱۱۵**

روغتیایي کارکوونکي په **۱۰** بنسټیزو بیړنی پاملرنې کورسونو کې وروزل شول.

د روغتیا بیړني ځانګې د ملاتړ پروګرام تر چتر لاندې د خوست ولایتي روغتون (**۱۵۰** بستریز) لپاره د اوبو رسولو د سیستم حیاتي پرزې احتمالي اړتیاوو په موخه وسپارل شوې

**۲**

دوه روغتونونو ته د هایبرډ سولر سیستم د دویم پړاو له لارې ورکړل شول. د کندهار په میرویس ساحوي روغتون (**۶۳۰** بستریز) کې **۵۵۰** کیلو واټه AC نصب شوی دی.

## د روغتیا زده کړه

**۹**

د غضنفر د روغتیایي علومو د انستیتوت **۹** ځانګو ته د **۲۰۲۵** له جنوری څخه تر مارچ پورې د فعالیت د لګښتونو په برخه کې مرسته وشوه، تر څو د نرسانو، قابلو او روغتیایي تخنیکرانو روزنه پرله‌پسې ډول روانه وساتي.

**۹۸۶**

روغتیایي کارکوونکي، چې د عامې روغتیا وزارت او د افغاني سرې میاشتې ټولنې پرسونل هم پکې شامل وو، د روغتیایي کارکوونکو او خدمتونو د درناوي د کلیدي پیغامونو په اړه، او همدارنګه د روغتیایي کارکوونکو د حقونو او مسؤلیتونو په اړه وروزل شول.

**۶**

بنسټیزې بیړني پاملرنې روزنیزې غونډې، چې په کې **۲** د روزونکو د روزنې پروګرامونه شامل وو، د دې لپاره ترسره شوې چې په نورو سیمو کې د دې روزنو د خپلواکه پراختیا ته لپاره لاره هواره کړي.

**۳**

د طبي اخلاقو درې دورې د مالي ملاتړ په ترلاسه کولو سره ترسره شوې چې د «طبي ماموریت د درناوي» پیغامونه یې په نصاب کې ورګډ شوي وو.

**۸۵**

د عامې روغتیا وزارت او غضنفر د روغتیایي علومو د انستیتوت څخه **۸۵** استازي په **۶** بنسټیزو بیړنی پاملرنې روزنیزو غونډو او **۲** د روزونکو د روزنې (ToT) غونډو کې وروزل شول. دا غونډې په ستراتیژیک ډول تنظیم شوې وې ترڅو په نورو ځایونو کې د بیړنیو پاملرنې روزنې پراختیا ممکنه کړي.

## لومړنۍ مرسته

**۱۰۷**

د لومړنیو مرستو لومړي ځواب ویونکی پرسونل په **۶** بنسټیزو لومړنی مرستې کورسونو او په یوه پرمختللې لومړنی مرستې روزنیزه غونډه کې په بېلابېلو ولایتونو کې وروزل شول او ورته د **۱۰۷** لومړنی مرستې کټونه ورکړل شول.

## بیړنۍ غبرګون

**۱۳۲**

د بیړني ټپونو د درملنې کټونه د عامې روغتیا وزارت روغتونونو، د لومړنی روغتیایي پاملرنې مرکزونو او پوځي کلینیکونو ته ورکړل شول. دا توکي به د ډله‌ییزو پېښو د ټپیانو د درملنې لپاره وکارول شول. هر کټ یا بسته کولای شي د **۳۰** څخه تر **۱۰۰** ټپیانو درملنه وکړي.

د ورکشاپ ګډونوال د غضنفر د روغتیایي علومو په انستیتوت کې د فزیکي معاینې مهارتونه تمرینوي.



# د فزیکي بیارغونې خدمتونه

**۱۰۴،۶۳۴**

ناروغانو ته د هېواد په **۷** هغو فزیکي بیا رغونې مرکزونو کې چې د آی سي آر سي له لوري یې ملاتړ کېږي، مرسته وړاندې شوه.

**۸،۷۴۸**

نوي ناروغان ثبت شول، چې په کې **۵۰۹** هغه کسان شامل وو چې د لاس یا پښې پرې کولو عملیات یې تېر کړي‌وو.

**۱۵،۵۵۰**

مصنوعي غړي او ملاتړیز وسایل (پروستیسونه او اورتوسونه) جوړ شول.

**۷۲،۹۴۹**

فزیوتراپي غونډې ترسره شوې.

**۵،۳۱۱**

کورنۍلیدني ترسره شوې ترڅو **۲،۹۲۰** ناروغانو ته مرسته برابره شي.

**۳۴۳**

ناروغانو ته مسلکي روزنه ورکړل شوه.

**۱،۵۳۴**

ناروغانو ته د کوچنیو کاروبارونو د پیل لپاره د کوچنیو پورونو (مایکرو کریډیټ) اسانتیا برابره شوه.



یو فزیوتراپیسټ د کابل د فزیکي بیا رغونې په مرکز کې له ناروغ سره په خبرو بوخت دی تر څو د هغه روغتیایي وضعیت د رغېدا په برخه کې مرسته وکړي.

# د آزادۍ څخه د بې‌برخې شویو وګړیو په ګټه فعالیتونه

**۳۱**

په ټول هېواد کې د **۱۲** توقیف ځایونو څخه **۳۱** لیدني وشوې.

**۲۹،۸۵۷**

د آی سي آر سي په ملاتړ، د هرات او سرپوزې ولایتي زندانونو کې بندیانو ته **۲۹،۸۵۷** د مشورې خدمتونه وړاندې شول. همدارنګه د عامې روغتیا وزارت د ټول هېواد په کچه د زندان د روغتیایي خدمتونو د تطبیق لپاره تخنیکي، مالي او لوژستیکي ملاتړ ترلاسه کاوه.

**۴**

د ولایتي زندانونو د روغتیا کمېټو او د زندان روغتیایي فرعي کاري ډلې منظمې غونډې د دې لپاره ترسره شوې چې د بندیانو لپاره د معیاري روغتیایي خدمتونو لاسرسی تضمین شي.

**۱۸،۰۰۰**

د روژې په میاشت کې د آی سي آر سي د سبزیجاتو او مېوو مرسته د بندیانو د خوراک د بنه والي لامل شوه چې شاوخوا **۱۸،۰۰۰** زندانیانو ته یې ګټه ورسوله.

**۱۶،۶۲۹**

په **۱۲** زندانونو کې **۱۶،۶۲۹** بندیانو ته د نظافت مواد ورکړل شول څکه چې آی سي آر سي د زندانونو د چارو د تنظیم اداري د هغو هڅو ملاتړ ته دوام ورکړ چې د توقیف ځایونو د مناسب حفظ الصحې شرایط تضمین کړي. د انتاني ناروغیو د خپرېدو د مخنیوي لپاره هم وخت ناوخت کمپاینونه ترسره شول، لکه د بلخ ولایتي زندان کې د سکیبیس/پوټکي ناروغی کمپاین چې له **۱،۲۰۰** څخه ډېر بندیان او پرسونل یې تر پوښښ لاندې راوستي وو. دړي بندیانو د فزیکي بیا رغونې خدمتونه ترلاسه کړل.

۱۲۷

روغتیايي کارکوونکو ته د مهمو روغتیايي موضوعاتو لکه د طبي اخلاقو، د ناروغیو ځار، لومړنی طبي سکرینګ (IMS)، د نري رنځ مدیریت، بنسټیزه بیړنی پاملرنه، د کڅافاتو مدیریت، د شکر ناروغی مدیریت او د روغتیا ترویج په اړه روزنه ورکړل شوه.

۲,۰۰۰

له **۲,۰۰۰** څخه ډېر بندیان د سرپوزې ولایتي زندان کې د اوبو د رسولو د سیسټمونو د ښه کېدو له لارې برخمن شول.




د کندهار په سرپوزه زندان کې د حفظ الصحې توکو وېش.

د ۲۰۲۴ز کال په وروستیو کې د بندیانو لپاره د مستقیمي خوراکي مرستې د تدریجي پای ته رسېدو وروسته، موږ د عامې روغتیا وزارت په همکارۍ د زندانونو چارو د تنظیم له اداري سره د خوراکي توکو د ځنځیري مدیریت او د تغذیې د ځار د پیاوړتیا لپاره، ملاتړ ته دوام ورکړ.

٦

د ۲۰۲۵ز له پیل راهیسې، آی سي آر سي د پلچرخي مرکزي زندان کې یوه ازمایښتي پروژې څخه ملاتړ کوو چې موخه یې د بندیانو لپاره د مسلکي فعالیتونو پراختیا او د هغوی د تغذیې ښه کول دي، د دې لپاره چې په زندان کې د **٦** هکتاره فارم دوامداره او فعاله ساتنه وکړي.

۱۸۰

په څلورو ولایتونو کې شاوخوا **۱۸۰** د ولایتي زندان کارکوونکو ته د بندیانو او د زندان د اسانتیاوو د ښه مدیریت په اړه ښه تګلارې وروښودل شوې په داسې حال کې چې په ولایتي او مرکزي کچه ورکشاپونو کې یې په ځانګړو موضوعاتو لکه تغذیه او حفظ الصحې باندې ټینګار وو.

## د کورنۍ اړیکو ساتنه

۵۹

د ورکو شویو کسانو **۵۹** قضیې حل شوې او د هغوی د ځای ځایګی معلوم شو، چې له دې جملې څخه د **۱۱** کسانو د افغاني سرې میاشتې ټولنې او د غورځنګ د شریکانو په مرسته پیدا شول.

۳

ویډیويي ټېلي کنفرانسونو ته زمینه چمتو شوه، په ګوانتانامو کې توقیفي اشخاصو او کورنیو تر منځ یې د **۲۱** سره صلیب پیغامونه (چې پکې لنډ کورني معلومات شامل وو) تبادله شول.

آی سي آر سي د افغاني سرې میاشتې ټولنې سره د لټون، موندلو، بیا یوځای کولو او یا هم د تاوتریخوالي، مهاجرت یا طبیعي پېښو له امله جلا شویو کسانو د اړیکې ټینګولو په برخه کې ملاتړ ته دوام ورکړ.

۱۴۳

کورنۍ لیدنې ترسره شوې، د هغو کورنیو د ملاتړ لپاره چې د توقیف شویو خپلوانو د لیدو د سفر لګښت نه شي پوره کولای. دوه کسان د «Trace the Face» آنلاین پلیټفارم له لارې له خپلو کورنیو سره په اړیکه کې شول.

۱۱

د بندیانو او د هغوی د کورنیو ترمنځ **۱۱** د سره صلیب پیغامونه او **۴** غږیز پیغامونه تبادله شول.

۳

د دربیو بهرنیو بندیانو په غوښتنه د هغوی د اصلي هېواد قونسلګرۍ ته خبر ورکړل شو.

۲,۲۲۰

۲,۲۲۰ کسانو له آی سي آر سي سره اړیکه ونیوله، چې له دې شمېرې څخه **۲۹۸** کسانو د خپلو ورک شوو عزیزانو په اړه پوښتنه وکړه.




د افغاني سرې میاشتې په ملاتړ، له درې کلونو بېلتون او ناڅرګند حالت وروسته، لعل ضمیر بالاخره له خپل زوی فهیم سره یو ځای شو.

# د ملکي وګړو ساتنه

موږ د بشرپاله وضعیت څارنې ته دوام ورکړی او چې کله هم ورته اړتیا وي، نو موږ له وسله والو ډلو او سیاسي مشرانو سره د دوی د چلن په اړه په محرمانه او دوه اړخیزه توګه اندېښنې راپورته کړي چې په دې توګه د خلکو د خوندیتوب او حرمت ډاډمن شي.

موږ په بېلابېلو ولایتونو کې له ټولنو سره ښکېل یو، چې د دوی د خوندیتوب اندېښنې په غوره توګه درک کړو او داسې لارې چارې ومومو چې پر دوی باندې بشرپال اغېز رامحدود کړي.

## د مړو د باعزته مدیریت

د افغاني سرې میاشتې ټولنې د افتونو د مدیریت له ټیم سره د ګردي مېز یوه ناسته دایر شوه څو د آفتونو او مهاجرت پر مهال د مړو د مدیریت په برخه کې د دوی رول طرح او تعریف شي.

**۱۵**

د کلتوري چارو ریاست هغه **۱۵** کارکوونکي چې د کابل ښاروالۍ د هدیرې د چمتو کولو او اجسادو د ښخولو په برخه کې کار کوي، د مړو د خوندي مدیریت په اړه وروزل شول. د کابل ښاروالۍ د هدیرې کارکوونکو د خوندیتوب او د کارې بهیر د ښه کولو لپاره اړین شخصي حفاظتي وسایل (PPE) او نور توکي هم ورکړل شول.

**۴۵**

د غزني د عدلي طب څانګې ته **۴۵** د مړیو کڅوړې (body bags) مرسته وشوه.

## له خلکو سره مرسته

**۸۵۰**

کورنیو (**۶,۸۰۰** تنه) د ارزګان، پکتیکا، کونړ او کندوز ولایتونو کې د «کار په بدل کې نغدي» پروژو له لارې عاید ترلاسه کړ. د ټولنې د اوبو لګولو زېربناوې هم بېرته رغول شوې او د کرنیزو ځمکو د ساتنې لپاره د سېلابونو د مخنیوي اقدامات ترسره شول.

**۳,۰۰۰**

له **۳,۰۰۰** څخه ډېرو کسانو ته په کندوز ولایت کې برښنا ته څکه لاسرسي وموند چې د افغانستان د برښنا شرکت سره برښنا ته لاسرسي د ښه کولو په موخه د برښنایي توکو مرسته وشوه.

**۱۸۱**

کورنۍ (**۱,۶۴۱** تنه) چې د تاوتریخوالي له امله یا د وسلو د ککړتیا د پېښو لکه د ناچاودو مهماتو قربانیان وو، د مالي ستونزو د کمولو لپاره مرسته ترلاسه کړه.

**۴۲۳,۰۰۰**

له **۴۲۳,۰۰۰** څخه ډېرو ښاري اوسېدونکو ته د څښاک پاکې اوبه برابرې شوې، چې دا د بیا رغول شوې زېربنا او د نوو اوبو مېټرونو د نصب له امله ممکن شول.

**۱۹۵**

کورنیو (**۱,۵۶۰** تنه) په مزار شریف کې د «کورنۍ باغچې پروژې» تر عنوان لاندې مېندواره او شیدې ورکوونکو ښځو نغدي مرسته ترلاسه کړه.

**۶۵,۰۰۰**

له **۶۵,۰۰۰** څخه ډېرو کلیوالو ته د ارزګان او زابل ولایتونو کې د **۴۶۶** لاسي پمپونو د ترمیم له لارې د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسی برابر شو.

**۳۰۰**

کورنیو (**۲,۴۰۰** تنه) په مزار شریف کې د «د مېندواره او شیدې ورکوونکو مېرمنو څخه د ملاتړ پروژې» په وروستي پړاو کې نغدي مرستې ترلاسه کړې.




د کندز په زاخېل کې ځایي کارکوونکي د اوبو لګونې کانالونه رغوي چې شاوخوا د ۵۰۰۰ کورنیو لاسرسی اوبو ته ممکنوي.

# د افغاني سرې میاشتې ټولنې سره همکاري

## افغاني سرې میاشتې ټولنې ته ورکړل شوې مرستې

د بېړنه راستنېدونکيو سره د مرستې په موخه، د افغاني سرې میاشتې ټولنې مرکزي دفتر ته د بېړني مالي ملاتړ په توګه **۱۶** مېلیونه افغانۍ ورکړل شوې.

د افغاني سرې میاشتې ټولنې په لوګو سمبال **۱,۲۵۰** نښانونه، **۱,۶۰۰** قلمونه او د نړیوال بشري قانون (IHL) اصولو **۲,۰۰۰** نسخې تولید او افغاني سرې میاشتې ټولنې ته وسپارل شول.

د **۱۷۳** کارکوونکو د معاشونو، د **۴۲** دفترونو د عملیاتي لګښتونو او ځینو کوچنیو ترمیمي پروژو لپاره مالي مرسته چمتو شوې‌ده.

د افغاني سرې میاشتې ټولنې د کارکوونکو لپاره **۱۳** لېپټاپونه د اداري ملاتړ په موخه ورکړل شول.

د افغاني سرې میاشتې ټولنې د غبرګون او لوژستیکي چارو د ملاتړ لپاره یو روب هال (Rub Hall) مرسته شوې ده.

د HF/VHF راډيو وسایل د افغاني سرې میاشتې ټولنې مرکزي دفتر راډيو خونې سره مرسته وشوه.




د افغاني سرې میاشتې د روغتیا برخې کارکوونکی په کابل کې د افغان سرې میاشتې په کلینیک کې یو ناروغ معاینه کوي.

## ظرفیت لوړول

**۸۴**

کارکوونکو په دوه سیمه‌ییزو دفترونو کې درې د ساتونکو روزنيزې پروګرامونو کې برخه واخیسته.

**۷۱**

کارکوونکو او رضاکارانو په دریو د «د خوندي لاسرسي چوکاټ» پوهاوي ورکشاپونو کې ګډون وکړ.

**۳۰۰**

رضاکارانو په شپږو د رضاکارۍ او «د خوندي لاسرسي چوکاټ» ورکشاپونو کې برخه واخیسته.

**۹۵**

کارکوونکو او رضاکارانو په پنځو آی سي آر سي – افغاني سرې میاشتې ټولنې پېژندنې ورکشاپونو کې ګډون وکړ.

**۶,۹۰۷**

د «د خوندي لاسرسي چوکاټ» په ملاتړ د افغاني سرې میاشتې ټولنې لپاره **۶,۹۰۷** معیاري یونیفورمونه، **۵,۰۰۰** د افغاني سرې میاشتې بیرغونه په مختلفو اندازو، او **۳۰,۰۰۰** د افغاني سرې میاشتې سټیکرونه په مختلفو اندازو چاپ شول.

**۱۵**

د امنیت او ساتنې کارکوونکو د امنیتي خطر مدیریت په برخه کې روزنه ترلاسه کړه، او **۸۴** کارکوونکو په دوه سیمه‌ییزو دفترونو کې د پرسونل امنیت او خوندیتوب ورکشاپونو کې ګډون وکړ.

**۸۵**

رضاکاران او کارکوونکي «د خوندي لاسرسي چوکاټ» په اړه ورزل شول څو په ټولنه کې لاسرسی، خوندیتوب او منښت یې لا ښه شي.

**۶۶**

۶۶ د آفتونو د مدیریت کارکوونکو او رضاکارانو په درې کورسونو کې ګډون وکړ چې په اړتیاوو ارزونه، د ګټه اخیستونکو انتخاب او د وېش پر مدیریت تمرکز درلود.

## ۳۷

کارکوونکو د افغاني سرې میاشتې ټولنې په مرکزي دفتر کې درې ورځنۍ د امنیتي خطر مدیریت روزنه ترلاسه کړه.

## ۳

د افغاني سرې میاشتې ټولنې د امنیت او ساتنې کارکوونکو لخوا د درې سیمه‌ییزو دفترونو او څانګو ۳ امنیتي ارزونې ترسره شوې.

## ۵۵

۵۵ د افغاني سرې میاشتې ټولنې کارکوونکو د اوو ساحوي دفترونو په کچه د عملیاتو د همغږۍ غونډو کې ګډون وکړ.

## ۱۱

د افغاني سرې میاشتې ټولنې د ۷ سیمه‌ییزو امنیتي چارواکو لخوا په اوو زونونو کې ۱۱ امنیتي ارزونې ترسره شوې.

## ٦۴

د افغاني سرې میاشتې ټولنې د ساحوي او مرکزي دفتر څخه ٦۴ د ارتباطاتو کارکوونکو په دوه ورکشاپونو کې روزنه ترلاسه کړه.

## ۱۳۲

رضاکارانو او کارکوونکو د «روغتیا په خطر کې» ورکشاپونو کې ګډون وکړ.

## ۲

په هرات او بدخشان ولایتونو کې دوه راډیو خونې جوړې شوې، او په کندوز، مزار، جلال آباد، هرات او بدخشان کې پنځه راډیو خونې د آی سي آر سي په مرسته سمبال شوې.



د افغان سرې میاشتې یو رضاکاره په کندز ولایت کې ماشومانو ته د ماینونو د خطر پېژندنې او خوندي چلند په اړه خبرې کوي.

# د وسلو ککړتیا ته رسیده‌ګي کول

## ۷

په ټولیز ډول ۷ د خطر پوهاوي او خوندي چلند غونډې ترسره شوې چې ۱۱۹ کسانو ته رسیدلي دي.

## ۸

۸ کارکوونکو د خطر پوهاوي او خوندي چلند په برخه کې روزنه ترلاسه کړه، چې پکې یو تن د افغاني سرې میاشتې ټولنې له لویدیځې سیمې، درې تنه د آی سي آر سي له شمالي، درې تنه له لویدیځې او یو تن له جنوبي سیمو وو.

## ۳۱٦

۳۱٦ د افغاني سرې میاشتې ټولنې کارکوونکو او ۴۰۰ د آی سي آر سي کارمندانو «د کارکوونکو خوندیتوب روزنه» ترلاسه کړه.

## ۲

په ۱۴ ولایتونو کې دوه د خطر پوهاوي او خوندي چلند راډیو کمپاینونه پیل شول چې شاوخوا اته میلیونه خلکو ته رسېدلي دي.

# د بنسټیزو بشرپاله قوانینو او اصولو ترویج

## ۲۷۴

د بشرپاله بنسټیزو اصولو او د قوي کاروني په تړاو د آی سي آر سي په روزنیزو ناستو کې د کورنیو چارو وزارت ۲۷۴ چارواکو ګډون وکړ.

---


# عملیاتي اړیکې او د ټولني ښکېلتیا

## ۱,۹۰۵

د ټولنو مشرانو او غړو په ټولیز ډول په ۹۴ پوهاوي غونډو کې برخه واخیسته چې د آی سي آر سي او د سره صلیب او سرې میاشتې خوځښت د فعالیتونو په اړه پر لار اچول شوې وې.

## ۹۰۰

مذهبي او د ټولنو مشرانو او غړو او د آی سي آر سي ارتباطي کسانو په ۳۲ روژه‌ماتیو کې ګډون وکړ چې د روژې په میاشت کې د آی سي آر سي په دفترونو کې ترسره شوې.




**د لا نورو معلوماتو لپاره:**
kabul@icrc.org


**د سره صلیب نړیواله کمېټه**
مرکزي نمایندګي، کابل
۱۳ سړک، ۲ کوڅه، وزیر اکبرخان
کابل افغانستان
اړیکه: ۰۰۹۳۷۹۹۵۵۰۰۵۵
برښنا لیک: kabul@icrc.org
www.icrc.org


© ICRC, August 2023

زموږ ویب‌پاڼه:

زموږ فیسبوک‌پاڼه:

زموږ ایکس پته:

ICRC

Cover photo: ICRC
250/08.2025